

# دقُطبِ مدینه رَحمۃُ اللہِ عَلَیہ

## اعلیٰ اَوصاف

**13-JUNE-2024**

هفته‌وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پهٔ **13** جون، کال **2024**ء (اِسلامي تاريخ: **6** ذو الحج، **1445**ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د قُطبِ مدینه رَحۡمَۃُ اللّٰهِ عَلَیۡه اعلیٰ اَوصاف

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د اولياؤ خبره نه غورځولے کيږي
- ...ښه هر کلے هم نيکي ده
- ... قُطبِ مدینه پهٔ راز پوهه شو
- ... پهٔ غيبت کښې د شريکيدو مختلف انداز

پيشکش

اَلۡمَدِيۡنَةُ الۡعِلۡمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم فرمان مبارک دے: د جُمعې پۀ شپه او د جُمعې پۀ ورځ (يعني د زيارت د نـمر پريوتو نه تر د جُمعې د ورځې د نـمر پريوتو پورې) پۀ ما باندې د دُرُودِ پاک کثرت کوئ! څوک چې داسې کوي د قيامت پۀ ورځ به زۀ د هغۀ ګواهي ورکووم او شفاعت به يـې هم کووم. [1]

تمنّا ہے فرمایئے روزِ محشر | یہ تیری رہائی کی چِٹّھی ملی ہے
شفاعت کرے حشر میں جو رضؔا کی | سوا تیرے کس کو یہ قُدرت ملی ہے [2]

وضاحت: يا رسولَ الله صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم ! خواهش دا دے چې کله د قيامت پۀ ورځ حاضري وي نو تاسو ووفرمايئ: اے رضؔا! ستا د پاره د دوزخ نه د آزادۍ دا چيټۍ ميلاو شوې ده. اے خوږه محبوبه صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم ! د رضا شفاعت کول هم ستاسو کار دے، ستاسو نه علاوه چا ته هم دا طاقت نه دے ورکړے شوے.

الله پاک دې مونږ ته پۀ کثرت سره د دُرُود شريف لوستو توفيق راعطا

323

1…شُعَبُ الْاِیْمَان، باب فی الصلوات، جلد:3، صفحہ:111، حدیث:3033۔
2…حدائقِ بخشش، صفحہ:188 ملتقطاً۔

کړي. د سُنيانو عظيم پيشوا، ډير لوئي عاشقِ رسول سيدي قُطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ به خپلو مُريدانو ته نصيحت فرمائيلو چې ❁ د قرآنِ کريم تلاوت څومره ممکن کوي نو روزانه يې پۀ ځان باندې لازم کړئ! ❁ او دُرُود شريف خو د هر مسلمان محبوب او د مؤمِن د ايمان ځان دے، هر وخت دُرود او سلام عرض کوئ! ❁ او د دلائِلُ الخيرات شريف نه چې څومره کيدے شي نو روزانه لولئ! (3)

دَلائِلُ الخيرات شريف د دُرودِ پاک ډير ښکلے کتاب دے، پۀ دې کښې ډير زيات دُرودِ پاک ليکلے شوي دي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ بارګاه کښې مقبول دے، د دې د لوستو ډير برکتونه دي. د شجره عاليه قادريه، رضويه، عطّاريه پۀ اَورادو کښې هم د دلائِلُ الخيرات روزانه وظيفه شامله ده. کوشش وکړئ چې روزانه د دلائلُ الخيرات د وظيفې د لوستو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به مو نصيب شي. **الله** پاک دې مونږ ته د دې توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| زُبان و قَلب کی عظمت، دُرودِ پاک سے ہے | ہر ایک غم میں حفاظت، دُرودِ پاک سے ہے |
| دعائیں ہوتی ہیں مقبُول، اس وسیلے سے | خُدا کی خاص عنایت، دُرودِ پاک سے ہے |
| خُدا کے بعد مُحَمَّد کا نام لیتے رہو | ہر ایک کام میں برکت، دُرودِ پاک سے ہے |
| دُرودِ پاک ہی خاکیؔ کا کل اَثاثہ ہے | یہ ساری دولت و ثروت، دُرودِ پاک سے ہے |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



3...سیدی ضیاء الدین قادری، جلد:1، صفحہ:645۔

www.dawateislami.net

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے. (4)

**اے د خوږ نبي** صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**اے د خوږ نبي** صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم **عاشقانو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د قربانۍ ورځې رانزدې دي، هر خوا د سُنَّتِ ابراهيمي خبرې کیږي، خوش قِسمته خلق د **الله** پاک د خلیل حضرت ابراهیم علیہ السلام د سُنَّت ادا کولو د پاره مال خرچ کوي او ښکلي ښکلي ځاروي اخلي، پهٔ کوڅو کښې هر خوا ځاروي پهٔ نظر راځي. **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د قربانۍ کولو توفیق راعطا کړي. حضرت زِید بن اَرقم رضی اللہ عنہ فرمائي: یو ځل صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم پهٔ بارګاهِ رسالت کښې عرض وکړو: یا رسولَ الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم! دا قربانۍ څهٔ ده؟ خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ووفرمائیل: سُنَّةُ اَبِيْكُمْ اِبْرَاهِيْم یعنې ستاسو د والد ابراهیم علیہ السلام سُنَّت دي.



4...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

www.dawateislami.net

صحابهٔ كرامو رضی اللہ عنہم پوښتنه وكړه: يا رسولَ الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ! پهٔ دې كښې زمونږ د پاره څهٔ دي؟ اوئې فرمائيل: بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةٌ يعنې د قربانۍ د هر ويښته پهٔ بدل كښې ستاسو د پاره يوه نيكي ده. (5)

جو خُدا کے لئے قربانی کیا کرتے ہیں | در اَصل خُلد کے حقدار ہُوا کرتے ہیں

كوم خوش قِسمته عاشقانِ رسول چې روان كال د قربانۍ سعادت حاصلوي، الله پاک دې د هغه ټولو قربانۍ پهٔ خپله بارګاه كښې قبولې كړې او څوک چې د قربانۍ وَس نه لري او پهٔ زړهٔ كښې يې ارمان لري، الله پاک دې هغوئي له هم وَس وركړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم.

## ځويه! د مور خبره اومنه...!!

محمد عارِف قادري ضيائي رحمۃُاللہِ علیہ د سيدي قطبِ مدينه رحمۃُاللہِ علیہ مُريد دے. فرمائي چې د كال 1974ء خبره ده، ما پهٔ مدينه منوَّره كښې د مستقل اوسيدو فيصله وكړه. پهٔ مدينه منوَّره كښې د كاروبار هم يوه ذريعه جوړه شوه. بس د مور بي بي نه اجازت اخستل پاتې وو، نو د مدينے منورې نه مې مور بي بي ته خط وليكو او اجازت مې وغوښتو خو مور بي بي اجازت رانكړو او اوئې فرمائيل: پاكستان ته واپس راشه! د دې سره سره مور بي بي د سيدي قطبِ مدينه رحمۃُاللہِ علیہ پهٔ خدمت كښې هم خط راوليږو، هغوئي ته يې هم خواست وكړو چې د عارِف جدائي به زهٔ اونه زغملے شم، مهرباني وكړئ دے واپس راوليږئ!

عارِف قادري صاحب فرمائي: يو ځل زهٔ د شپې د سيدي قطبِ مدينه



5...ابن ماجہ، کتاب الاضاحی، باب ثواب الاضحیۃ، صفحہ: 510، حدیث: 3127۔

www.dawateislami.net

رحمۃ اللہ علیہ پۀ خدمت کښې حاضر شوم (روزانه چې به د شپې کوم د ميلاد محفل کيدلو پۀ هغې کښې مې شرکت وکړو)، د محفل نه پس چې ټول خلق لاړل نو سيدي قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ ووفرمائيل: عارِفه ځويه! ستاسو د کور نه خط راغلے دے، هغه ولوله! دا يې چې ووئيل نو هغوئي خط ما له راکړو، ما ولوستو او غلے شان مې کينبودو. اوئې فرمائيل: ځويه! خط دې ولوستو! ما ووئيل: آؤ جي اومې لوستو. اوئې فرمائيل: څۀ اراده دې ده؟ عرض مې وکړو: زۀ هم پۀ مدينه منوَّره کښې پاتې کيدل غواړم. د مور بي بي زړۀ به هم يو څو ورځې پس پخپله صبر شي. سيدي قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ ووفرمائيل: **ځويه! د مور خبره اومنه! پۀ دې کښې ستا د پاره برکت دے.** ما بيا عرض وکړو: تاسو کرم وکړئ. زۀ مدينه پريښودل او تلل نه غواړم. بيا قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ لږ پۀ جلال کښې راغلے او اوئې فرمائيل: **نۀ...!! لاړ شه! د مور حُکم اومنه! تۀ به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! مدينے منوَّرې ته راځې او هم دلته به پاتې کيږې.**

عارِف صاحب وائي چې مدينه منوَّره خو مې زړۀ پريښودل نه غوښتل خو بيا هم د مور بي بي پۀ حکم او د پير صاحب پۀ ارشاد باندې پۀ نه زړۀ پاکستان ته واپس راغلم. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! څۀ موده پس کرم اوشو، د پير صاحب دُعا رنګ راوړو، **محبوبِ کريم** صلی اللہ علیہ والہ وسلم **احسان ووفرمائيلو او زما د پاره پۀ مدينه منوَّره کښې د مستقل اوسيدو ذريعه جوړه شوه.** (6)

## د مَسعُود احمد صاحب د پاره زيرے

مَسعُود اَحمد قادري ضيائي رحمۃ اللہ علیہ هم د سيدي قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ



6...؟؟؟؟_

www.dawateislami.net

مُرید وو، د هغوئي سره هم تقريباً څۀ داسې واقعه شوې وه، وائي چې زۀ پۀ دويم ځل د حج د پاره حاضر شوم نو د حج نه پس مدينے منورې ته حاضري وشوه، زما اراده وه چې اوس به مستقل طور پۀ مدينه منوَّره کښې اوسيږم. نو هم د کور نه د تللو پۀ وخت مې د والد صاحب نه اجازت اخستے وو، زه چې مدينے منورې ته ورسيدم نو ځان له مې کار هم ولټولو او هم هلته اوسيدم. څۀ موده پس مې د والد صاحب خط راغلے، هغوئي حکم وکړو چې ځويه! پاکستان ته واپس راشه! زۀ پريشانه شوم، روزانه به د ماسخوتن د نـمونځ نه پس د پير صاحب سيدي قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ پۀ خدمت کښې حاضريدم، ما ورته مسئله عرض کړه نو اوئې فرمائيل: **ځويه! زړ لاړ شه! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! بيا به راځې او هم دلته به اوسيږې، د مور پلار حکم منل ضروري دي.**

جناب مسعود احمد صاحب فرمائي: ما د پير صاحب خبره وومنله او واپس پاکستان ته راغلم. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د پير او مرشِد (سيدي قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ) د دُعاګانو پۀ برکت زما نور دوه ځله د حج سعادت نصيب شو او آخر مې هم پۀ مدينه منوَّره کښې مستقل اوسيدل هم نصيب شول. (7)

## د اولياؤ خبره نه رد کيږي

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د سيدي قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ ...!!

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د الله پاک چې کوم نيکان بندګان وي، اوليائے کرام وي، د هغوئي خبره نه غورځولے کيږي، هغوئي چې کومه خبره ووفرمائي، رَبِّ کريم پۀ



7...؟؟؟؟_

www.dawateislami.net

خپل کرم باندې د هغوئي خبره پوره کوي. **پهٔ بخاري شريف کښې اورېد حديثِ پاک دے،** او هغه هم حديثِ قُدسي دے يعنې زمونږ د رَبّ ارشاد دے، الفاظ د محبوبِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم دي، ارشاد دے: مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ اٰذَنْتُهٗ بِالْحَرْب خوک چې زما د يو وَلي (يعنې زما د دوست) سره دښمني وساتي زهٔ (رَبِّ قهّار) د هغهٔ سره د جنګ اعلان کووم. [8]

دا د اولياؤ شان دے، د هغوئي سره دښمني د **الله** پاک سره د جنګ اِعلان دے. د دې حديث شريف پهٔ آخره کښې دي: وَاِنْ سَاَلَنِيْ لَاُعْطِيَنَّهٗ او که هغهٔ (يعنې وَلِيُّ الله) زما نه څهٔ وغواړي نو زهٔ (الله رَبُّ العالمين) يـې ضرور هغهٔ ته عطا کووم.

سُبْحٰنَ الله! دا د **رَبِّ** کريم پهٔ بارګاه کښې د اولياؤ مقام دے، د هغوئي عزت دے چې هغوئي څهٔ ووفرمائي، څهٔ چې د **الله** پاک نه وغواړي، **رَبِّ** رحمان او رَحيم صرف پهٔ خپل کرم سره د هغوئي خبره نه رد کوي بلکې د هغوئي سوال قبلوي. مولانا رُوم رحمۃ اللہ علیہ فرمائي:

گُفتۂِ اُو گُفتۂِ اَللّٰه بُوَدْ | گَرچِه اَز حُلقُومِ عَبْدُ الله بُوَدْ

**مفهوم:** د وَلي د خُلې نه وتلې خبره هغه وي کومه چې رَبِّ کريم بخپله پهٔ هغوئي وئيل غواړي، اګر که د بنده د حَلق نه وتلي الفاظ وي، خو پهٔ حقيقت کښې د رَبّ د مرضۍ مطابق وي.

## د قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ تعارُف

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پهٔ خلورم ذُو الحِجَّةُ الحَرَام د قطبِ مدينه



[8]... بخاری،۔

ورځ ده يعني پهٔ دې ورځ باندې د وخت د ولئ کامِل، عالِم با عَمَل، عاشِقِ رسول، سيدي قطبِ مدينه حضرت ضياءُ الدِّين مَدَني رحمۃُ اللہِ علیہ وِصَال مبارک شوے وو. سيدي قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دامت برکاتہم العالیہ پير صاحب يعني د عطّاريانو نيکه بابا پير دے.

✿ هغوئي پهٔ کال 1877ء کښې دُنيا ته تشريف راوړلو. ✿ سيالکوټ د هغوئي آبائي ښار دے. ✿ د هغوئي پيدائشي نوم **احمد مُختار** دے. ✿ د هغوئي [د پلار د اړخ نه] نيکه بابا جان د هغوئي نوم ضياءَ الدِّين کيښودو. ✿ هغوئي د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رضی اللہ عنہ پهٔ اولاد کښې دي. ✿ د هغوئي خاندان د علمائے کرامو او صوفيائے کرامو کورنئ وه ✿ د هغوئي پهٔ پلار نيکونو کښې شيخ عبد الله قادري رحمۃُ اللہِ علیہ د کراماتو خاوند ولي وو، تقريباً په شپاړسمه صدئ عيسوئ کښې يې هجرت کړے وو او مدينے منورې ته تلے وو. ✿ دغه شان شيخ عبد الحليم قادِري هم د هغوئي پهٔ نيکونو کښې دے، دے هم ډير باکماله عالِم او صُوفي وو. (9)

✿ سيدي قُطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ به د اوليائے کرامو سره ډير محبَّت کولو، پخپله فرمائي: زما پلار نيکونه ټول قادريان (يعني د حُضُور غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ مُريدان) وو. ✿ د قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ عادت وو چې د حضور غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ نوم مبارک به يې واوريدو نو د اَدَب له وجهې به يې سر ښکته کولو. (10)



9...سیدی ضیاءالدین احمد القادری، جلد:1، صفحہ:184، 186 ملتقطاً بتصرف۔

10...سیدی ضیاءالدین احمد القادری، جلد:1، صفحہ:186 بتصرف۔

www.dawateislami.net

❁ سيدي قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ دَورۂ حديث شريف (يعنې د عالِم كورس) د پيلي بهيت (هندوستان) نه پوره كړو ❁ د هغوئي دستار بندي اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃُ اللہِ علیہ وكړه. ❁ د 18 كالو پهٔ عمر مبارك كښې اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ علیہ هغوئي ته خِلافت عطا كړو. (11)

| | |
|---|---|
| کلی ہیں گلستانِ غوثُ الوَریٰ کی | یہ باغِ رضا کے گُلِ خوشنما ہیں (12) |

❁ پهٔ كال 1910ء كښې هغوئي مدينے منورې ته حاضر شول او د 70 كالو نه زياتې مودې پورې ورته دلته د قيام شرف نصيب شو. آخِر هم پهٔ مدينه منوَّره كښې يې د دې دُنيا نه رحلت ووفرمائيلو. د هغوئي مزار مبارك پهٔ بقيع شريف كښې دے. (13)

| | |
|---|---|
| دلکش و دلکشا ضِیاءُ الدّین | میرے دل کی ضِیا، ضِیاءُ الدّین |
| تم کو قطبِ مدینہ یا مرشد! | عُلَما نے کہا ضِیاءُ الدّین |
| پون سو سال تک مدینے میں | تم نے بانٹی ضِیا، ضِیاءُ الدّین (14) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## سيدي قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ د ښو اخلاقو مالك وو

اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دامت برکاتہم العالیہ د خپل پيرِ كامِل اوصاف بيانوي او ليكي: حُضُور سيدي قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ د



[11]... سیدی ضیاء الدین احمد القادری، جلد:1، صفحہ:187 بتصرف۔
[12]... وسائلِ بخشش، صفحہ:306۔
[13]... ؟؟؟؟۔
[14]... وسائلِ بخشش، صفحہ:562، 563 ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

عِلم او عمل نمونه وه، هغوئي د خپل کور نه روان شول او پهٔ بغداد تير شول او مدينے منورې ته يـې تشريف يوړلو، پهٔ دې سفر کښې هغوئي د ډيرو امتحانونو سره مخ شول، دا داسې سخت امتحانونه وو چې پهٔ دې باندې صبر کول هم د هغوئي حصه ده. سيدي قطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ډير د ښو اخلاقو مالِک وو، اکثر چې کله به د هغوئي پهٔ خدمت کښې څوک حاضر شول نو د مرحبا! مرحبا! وئيلو سره به يـې ورته هر کلے وئيلو. د هغوئي پهٔ طبيعت کښې بے مثاله سادګي او عاجزي وه، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: ما څو کَرَته وليدل چې کله به د هغوئي پهٔ خِدمت کښې د دُعا درخواست وړاندې کيدلو نو فرمائيل به يـې: **زهٔ خو دُعا کو هم يم او دُعا جَو هم. يعنې دُعا هم کووم او ستاسو نه د دُعا طلب ګار هم يم.** (15)

ضيا پير و مُرشد مرے رہنما ہیں | سُرورِ دل و جاں مِرے دلرُبا ہیں (16)

## د هرکلي ښکلے انداز

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د **مَرحَبَا** معنیٰ ده: ستاسو راتګ د وسعت والا دے، يعنې تاسو زمونږ خوا له تشريف راوړو، ستاسو د پاره زمونږ سره ډير ګنجائش او فراختيا ده. پهٔ اُردو کښې دې ته **خوش آمديد** وئيلے شي او پهٔ انګلش کښې ***Well Come*** وئيلے شي. دا د چا د هر کلي ډير ښکلے انداز دے، زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معمول وو چې هغوئي به د مَرحَبَا وئيلو سره خلقو ته هر کلے وئيلو، عموماً



15...؟؟؟۔
16...وسائلِ بخشش، صفحہ:306۔

چې کله به د مختلفو قبيلو خلق پهٔ خدمت کښې حاضريدل نو آخري نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم به هغوئي ته پهٔ ښکلې طريقه هر کلے وئيلو او مَرحَبَا به يې وئيله، يو ځل د دَوس قبيلې 400 کسان پهٔ خدمت کښې حاضر شول، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم هغوئي ته هر کلے ووئيلو او اوئې فرمائيل: مَرْحَبًا اَحْسَنُ النَّاسِ وُجُوْهًا وَ اَطْيَبُهُمْ اَفْوَاهًا وَ اَعْظَمُهُمْ اَمَانَةً هر کله راشئ...!! خومره ښکلو مخونو والا، پاکو خونو والا او پهٔ امانت دارئ کښې ډير عظمت والا خلق راغلي دي. (17)

حضرت اُمِّ هاني رضی اللہ عنہا فرمائي، يو ځل زهٔ پهٔ بارګاهِ رسالت کښې حاضره شوم، خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ووفرمائيل: مَرْحَبًا بِاُمِّ هَانِئٍ يعني اُمِّ هاني ته هر کلے...!! (18)

## راغلي کَس ته يې څادر عطا کړو

حضرت جَرير بن عبد الله رضی اللہ عنہ صحابئ رسول دے، هغوئي يو ځل بارګاهِ رسالت ته حاضر شول، هٰغه وخت رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم پهٔ کور کښې وو، ډير صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم هم حاضر وو، پهٔ کور کښې دننه د کښيناستو ځائے نه وو، حضرت جَرير بن عبد الله رضی اللہ عنہ هم د دروازے نه بهر کښيناستو، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم چې هغوئي وليدلو نو د کرم درياب پهٔ موجونو شو، (الله! الله! د حضرت جرير رضی اللہ عنہ بخت رابيدار شو)، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم خپل څادر



17...سبل الهدیٰ۔
18...سبل الهدیٰ۔

www.dawateislami.net

مبارک راواخستو او حضرت جریر رضی اللہ عنہ ته یـې ورویشتو او اوئې فرمائیل:
اے جَریره! دا وغوړوه او په دې باندې کښینه! (19)

واه! سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلې اخلاق دي، څومره د کرم انداز دے، صحابي دے بلکې داسې ووایئ چې د دواړو جهانونو د سردار صلی اللہ علیہ والہ وسلم شاګرد دے، ټول صحابهٔ کرام د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم غلامان، په هغوئې ځان قربانوونکي او شاګردان وو، غور وکړئ! خپل صحابي ته څومره ښکلے هر کلے وئیلے کیږي، آخري نبي، مکي مَدَني، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہ وسلم په پاک محفل کښې وو، ګیر چاپیره ترینه صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم حاضر وو، په دې حالت کښې هم رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم بهترین هر کلے ووئیلو او خپل صحابي ته یـې څادر عطا کړو.

دا د رسول الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم کرم وو چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم خپل څادر مبارک د غوړولو او په هغې باندې د کښیناستو د پاره عطا کړو، د صحابهٔ کرامو عشق او اَدَب دا خبره نه خوښوله، حضرت جَریر رضی اللہ عنہ هٔغه څادر مبارک راواخستو او په خپل مخ مبارک پسې یـې ومښلو، بیا یـې هغه ښکل کړو او په اَدَب سره یـې د ځان سره کیښودو. (20)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا د هر کلي ښې طریقې دي، نن سبا دلته دا انداز کمیږي، راتلونکو ته په ښه انداز هر کلے وئیل هم ځینو



[19]... سبل الہدیٰ۔
[20]... سبل الہدیٰ۔

www.dawateislami.net

خلقو له ورځي، عموماً خلق هم داسې بغير د مُسکي کيدو نه، بغير د څۀ توجه نه سلام کوي بلکې اوس سلام چرته کوي، بس هسې د لاس يو څو ګوتې ميلاوهلے شي. د راتلونکي ګس هر کلے کول هم يوه پوره موضوع ده او نن سبا معاشرې ته د دې ډير ضرورت دے، خلقو له پۀ ښه طريقه د هر کلي وئيلو چل هم نه ورځي. دا مونږ له زده کول پکار دي، چې کله هم څوک زمونږ خوا له راشي، پۀ ښه انداز کښې پۀ مُسکي کيدو سره، پۀ مخ باندې د خوشحالۍ راوستو سره، د بهترينو الفاظو سره، ور وړاندې کيږئ او هر کلے ورته وايئ، دا هم يوه نيکي ده.

## ښه هر کلے هم نيکي ده

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: يوه نيکي هم وړه مۀ ګڼئ! بے شکه د خپل (مسلمان) وروړ سره پۀ مُسکا باندې خبرې کول هم نيکي ده. [21] پۀ يو حديثِ پاک کښې دي: د خپل (مسلمان) وروړ سره پۀ روڼ تندي ميلاويدل هم نيکي ده. [22]

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د قطبِ مدينه رَحْمَةُاللهِ عَلَيه عشقِ رسول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت سيدي قطبِ مدينه رَحْمَةُاللهِ عَلَيه د مدينے د تاجدار، د زړونو د قرار صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره تر ليونتوب حده



21... سبل الہدیٰ۔
22... سبل الہدیٰ۔

www.dawateislami.net

پورې عشق وو بلکې دا وئيل به هم صحيح وي چې هغوئي د فَنَا فِي الرَّسُول پۀ اعلیٰ منصب باندې وو، ذِکرِ مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د هغوئي د شپې ورځې مشغولتيا وه، اکثر به يې د زيارت د پاره د راتلونکو نه پوښتنه کوله چې تاسو نعت شريف وايئ؟ که هغۀ به آؤ وکړو نو د هغۀ نه به يې نعت شريف اوريدو او ښه خوند به يې ترينه اخستو. ډير ځل به يې د نعتِ پاک پۀ اوريدو د سترګو نه اوښکې بهيدلې، هُم ټول کال به هره شپه د هغوئي پۀ آستانه کښې محفلِ ميلاد وو، پۀ کوم کښې چې به ✿ مَدَني ✿ تُرکي ✿ پاکستاني ✿ شَامي ✿ مِصري ✿ اَفرِيقي ✿ سَوډاني ✿ او د ټولې دُنيا نه راغلو زائرينو شرکت کولو.

## د دوئي نه د واپس کيدو سره به چرته ځي؟

بعضې ځل به داسې هم وشو چې کله به يو زيارت کوونکې مدينه منوّره پريښودله او واپس به خپل کور ته روانيدو نو راتللو به او عرض به يې کولو: يعني ما سلامِ وِدَاع کړے دے (يعني ما د رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم پۀ خدمت کښې الوِداعي سلام وړاندې کړے دے او اوس کور ته ځم). سيدي قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ به اِصلاح کوله او فرمائيل به يې: **دوئي چې وِدَاع اوکړې هُم نو چرته به ځي؟** پۀ بارګاهِ رسالت صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم کښې داسې عرض کوه: اَلْاَمَان يا رسولَ الله! اَلْحَفِيظ يا رسولَ الله! اَلمَدد يا رسولَ الله! اَلغِياث يا رسولَ الله! (23)



[23]... سبل الہدیٰ۔

## ستا نه چې مخ پټ کړم نو چا ته به مخ کووم

يو ځل يـې ووفرمائيل: مِرزا (شکور بيګ حيدرآبادي) صاحب وائي:

نہ کوئی عمل ہے سنانے کے قابِل

نہ مُنہ ہے تمہارے دکھانے کے قابِل

خو اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ فرمائي:

تجھ سے چُھپاؤں مُنہ تو کروں کس کے سامنے

کیا اور بھی کسی سے توقع نظر کی ہے

**يعني:** يا رسولَ الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ! زۀ ګنهګار يم، خطاکار يم، فرض کړئ که زۀ د شرم پۀ وجه ستاسو نه مخ پټ هم کړم نو چا ته به مخ کووم، ستاسو نه علاوه څوک دي پۀ چا پورې چې د کرم اُميد وتړلے شم؟

دا شعر چې يـې ولوستو نو سيدي قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ ووفرمائيل: د هغوئي د کرم پۀ لمن کښې خو پټيدے شو خو د هغوئي نه د مخ پټولو سره چرته تلے شو؟ او څنګ يـې پټولے شو؟ چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم خو د لاس پۀ تَلي باندې کائنات بالکل واضحه ويني. (24)

## د قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ د عشق نه ډکې اداګانې

❁ د سيدي قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ دا کرامت وو چې کله به هم يو سيد صاحب تشريف راوړلو، اګر که د هغوئي سره به مخکښې څۀ تعارف نه وو شوے، بيا به هم هغوئي ته معلوميدله چې دے سيد دے، د هغوئي به يـې ډېر



24... سبل الہدیٰ۔

www.dawateislami.net

ادب كولو، لاسونه به يې ورله هم ښكلول. (25) ❁ د مصطفٰے د نوم به يې بے حده ادب كولو، مصطفٰے نومې يو ګس د هغوئي خادم وو او د عمر نه هم كم وو، د هغوئي عادت وو چې هغهٔ به يې كله هم رابللو نو د **يا سيّدي مصطفٰے** وئيلو سره به يې رابللو. (26) ❁ يو ځل د هغوئي شهزاده هٔغه خادم پهٔ څهٔ وجه د كار نه ويستو، چې كله قطبِ مدينه د دې نه خبر شو نو هغوئي هٔغه خادم راوبللو او صرف د هغهٔ د نوم ادب كولو سره يې ووفرمائيل: يا سيدي مصطفٰے تهٔ كار خو پرېږدې البته هره مياشت راځه او زما نه خپله تنخوا وړه. (27)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښكلے شان دے...!! د دې نه اندازه ولګوئ چې صرف د پاک نوم دومره ادب دے نو سيدي قطبِ مدينه رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به پخپله د سركارِ عالي وقار، مكي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څومره ادب كولو.

❁ د سيدي قطبِ مدينه رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ دا هم د عشق نه ډكه ادا وه چې كه چا دولت مند به هغوئي كور ته اوبللو نو فرمائيل به يې: زهٔ د خپل كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ دَر باندې پروت يم، زما كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما د پاره كافي دے. پهٔ ناسته ناسته راله ټكړه راكوي، ډېره ښه يې راكوي، خورم يې او ښه يې خورم. (28) ❁ سيدي قطبِ مدينه رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به د وِصال پهٔ آخري ورځو كښې بالكل څهٔ نه خوړل چې دا به عرض وكړے شو چې پئ او شات د رسولِ هاشمي مكي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډېر خوښ وو نو



25...سیدی ضیاء الدین احمد القادری، ج 1، ص 531 ماخوذا
26...سیدی ضیاء الدین احمد القادری، ج 1، ص 534 ماخوذا
27...سیدی ضیاء الدین احمد القادری، ج 1، ص 534 ماخوذا
28...سیدی ضیاء الدین احمد القادری، ج 1، ص 505 ماخوذا

www.dawateislami.net

فرمائيل به يـې: ښه! راوړئ، بيا به يـې ترينه يو څو کوټه وکړل. [29] ❀ چې کله به څوک په مدينه منوَّره کښې وفات شو او هغوئي به خبر کړے شول چې حضرت فلانکے وفات شوے دے او هغهٔ په بقيع کښې دفن کړے شوے دے نو هغوئي به فوراً لاسونه پورته کول او د وفات شوي کَس د پاره به يـې دعا کوله او فرمائيل به يـې چې **الله** پاک دې مونږ هم د هغهٔ سره ميلاؤ کړي. [30]

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ په راز پوهه شو

يو ځل د سيدي قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ په ځائے کښې محفلِ ميلاد وو، د حيدر آباد (دکن، هندوستان) يو مشهور شاعر مِرزا شکور بيګ هم حاضر وو، هغوئي خپل يو ليکلے نعت شريف ووئيلو، د هغې د آخري شعر مفهوم څهٔ داسې وو چې په مِرزا کښې څهٔ صفت خو شته، د کوم په وجه چې سرکار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم هر کال دے مدينے ته رابلي.

مِرزا صاحب دا نعت ووئيلو، وخت تيريدو، بيا **الله** پاک څهٔ داسې وکړل چې هُغه مِرزا شکور صاحب څوک چې به هر کال مدينے منورې ته حاضريدو، بيا دوه، درې کاله تير شول، د حاضرۍ هيڅ سبب جوړ نه شو، ډير پريشانه شو چې د حاضرۍ نه ولې محرومه شوم، هيڅ په پته نه پوهيدو، آخر يـې د سيدي قطبِ مدينه رحمۃُ اللہِ علیہ په خدمت کښې پيغام وليږلو او عرض



29...انوارِ قطبِ مدینہ
30...سیدی ضیاء الدین احمد القادری، ج 1، ص 534 ماخوذا

يـې وکړو: عالي جاه! ډېر ناقلاره يم، دُعا وکړئ چې حاضري وکړم!

سيدي قطبِ مدينه رحمۃُاللہِ علیہ خو وَلِيُّ الله وو، د **الله** پاک اوليائے کرام خو پۀ ځغه رازونو هم پوهيږي کوم لور ته چې د عامو خلقو هډو توجه هم نه وي، هغوئي د مِرزا صاحب دې شعر ته پام راوګرځولو. بيا مِرزا صاحب ته معلومه شوه چې ما وئيلي وو چې زۀ هر کال مدينے منورې ته راځم، دا زما کمال دے. هغۀ د هغې نه توبه کړه. د **الله** پاک کرم ته وګورئ چې پۀ راتلونکي کال يـې بيا د حاضرئ سعادت نصيب شو.

بيا مِرزا صاحب د سيدي قطبِ مدينه رحمۃُاللہِ علیہ پۀ خدمت کښې حاضر شو، نعت شريف يـې ووئيلو او د هغې پۀ آخري شعر کښې يـې ووئيل:

هر سال بلانے میں ہے راز یہی مرزا | سرکار جگاتے ہیں تقدیر کمینے کی (31)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## عاجزي اختيار کړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پۀ دې خبره باندې ځان پوهه کړئ، لوئي خبرې کول بعضې وخت ډېره ګرانه پريوځي، چا عاشق وئيلي دي:

اُچّے بول نہ بول ظُہوری، ربّ دے بندے کھہ گئے نے

نیویں پا کر ٹُر دِیاں رہنا چنگا لگدا اے

**وضاحت:** يعني اے ظُهوري! د **الله** پاک نيک بنده وئيلي دي چې لوئي خبرې مۀ کوه! بس پۀ عاجزئ سره ټيټ سر ګرځيدل ښه ښکاري.



[31]... سیدی ضیاء الدین احمد القادری، ج 1، ص 534 ماخوذا

www.dawateislami.net

مونږ له چرې هم لوئي خبرې نه دي کول پکار، بس عاجزي کوئ، د الله او د رسول عاجزه بنده جوړ شئ، په دې کښې عافيت دے، په دې کښې خير دے، څوک چې د الله او د رسول په مخکښې سر پورته کوي، بيا هغۀ چرې هم د سر پورته کولو لائق نه پاتې کيږي.

## په باطني اسبابو باندې هم غور کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې واقعه کښې يوه اهمه خبره د زدکړې د پاره دا هم ده چې زمونږ د ❀ مشکلاتو ❀ پريشانو ❀ او ناکامو سبب دې هميشه ظاهري وي نو دا ضروري نه ده ❀ مشکلات ❀ پريشانئ ❀ ناکامئ بعضې وخت د باطني اسبابو په وجه هم راځي. دلته عام طور دې اړخ ته پام نه کيږي، نن سبا هر دويم دريم انسان پريشانه ښکاري، چې د پريشانئ د وجهې پوښتنه ترينه وکړې ❀ نو څوک به وائي چې ډيره زياته ګراني ده ❀ څوک به وائي چې د فلانکي په وجه داسې وشول ❀ څوک به وائي چې حکومت ښه نه دے ❀ څوک به وائي چې عوام ښه نه دي. د هر يو ګس خپله خپله رائے ده خو ❀ دا غور څوک هم نه کوي چې ما د سحر نـمونځ نه وو کړے ځکه پريشاني راغلې ده ❀ دا سوچ څوک هم نه کوي چې د قرآنِ کريم نه بے رغبتي زياته شوې ده ځکه مسئلې پيدا کيږي ❀ دا سوچ به څوک هم نه کوي چې رشتې ماتول عام شوي دي ❀ بدکاريانې زياتيږي ❀ بے حيائي عام کيږي ❀ جوماتونه شاړ پراته دي، دا هم د ناکامو اسباب دي، دا هم د بے برکتئ اسباب دي، که مونږ په دې باطني اسبابو باندې غور وکړو او د دې حل کول شروع کړو نو يقين وکړئ چې زمونږ

پريشانۍ ختميدے شي. ډاکټر اقبال وئيلي وو:

سبب کچھ اَور ہے، جسے تُو خُود سمجھتا ہے | زوال آدمِ خاکی کا بے زَرِی سے نہیں( 32 )

يعني د ناکامو سبب صرف دا نه دے چې ❀ ډيره زياته ګراني ده ❀ روزګار نشته، بلکې ❀ کردار خراب شوے دے ❀ د مشرانو احترام نه کيږي ❀ په ماشومانو باندې شفقت نه کيږي ❀ د غريب تپوس نه کيږي ❀ د خپلوانو احساس نه کيږي ❀ د نــمونځ، روژې فِکر نشته ❀ د الله او د رسول احکامو ته توجه نه کيږي، دا هم زمونږ د ناکامو اسباب دي، مونږ له په دې باندې هم غور کول پکار دي.

د وئيلو مقصد دا دے چې کله هم څۀ پريشاني راځي، مشکل راځي، په څۀ کار کښې ناکامي راځي نو د دې د حل کولو د پاره تشخيص ښه پوره کوئ، د مسئلې جرړې ته ځان رسوئ، ډاکټر چې کله ښه تشخيص وکړي نو دوائي اثر کوي، ځکه په مشکل، پريشانۍ، ناکامۍ وغيره باطني سبب باندې هم د غور کولو عادت جوړ کړئ! په دې باندې مونږ د معاملې جرړې ته رسيدے شو، چې کله د معاملې جرړې ته ورسو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دې حل به هم راوځي.

يو ځل پير مِهر علي شاه صاحب رحمۃ اللہ علیہ په سفر کښې وو، د ماښام د نــمونځ وخت شو نو هغوئي ووفرمائيل: نــمر پريوځي، نــمونځ دې وکړے شي. ډرائيور عرض وکړو: مونږ به ډير زر فلانکي ځائے ته ورسو، لهٰذا هلته چې ورسو نو نــمونځ به ادا کړو (هغوئي په سفر کښې وو، جَمع پرې واجب نه وه، لهٰذا) هغوئي خاموش پاتې شول. چې لږ مخکښې لاړل نو ګاړے اړتاؤ



32...؟؟؟

www.dawateislami.net

شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! څۀ ځاني نقصان اونه شو، البته معمولي زخمونه وغيره راغلل.
پۀ دې موقع باندې پير مِهر علي شاه صاحب رحمۃ اللہ علیہ ووفرمائيل: **نـمونځ مو بغير د څۀ وجهې نه ناوخته کړو، دا تکليف پۀ دې وجه باندې دے.** (33)

د ناکامو، بے برکتونو، پريشانو دا اسباب هم وي، کومو ته چې مونږ پام نه کوو. **الله** پاک دې مونږ ته د سوچ او د پوهې توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## د قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ د غيبت نه نفرت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د سيدي قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ يو بَل ډير ښکلے صفت دا وو چې هغوئي به د غيبت نه ډير نفرت کولو. د چا غيبت کول يا اوريدل د هغوئي بالکل خوښ نه وو، د هغوئي پۀ مخکښې که به چرې چا د چا غيبت کولو نو هغوئي به يـې فوراً اِصلاح کوله.

يو ځل يو زائِر (يعني مدينے منورې ته راغلے عاشقِ رسول) د هغوئي پۀ خدمت کښې حاضر شو، قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ ترينه پوښتنه وکړه: تاسو د کوم ځائے نه راغلي يئ؟ عرض يـې وکړو: د پاکپتن نه. اوئې فرمائيل: هر کلے! هر کلے! پاکپتن د حضرت (بابا فريدُ الدِّين مسعود) گنج شکر رحمۃ اللہ علیہ پۀ نسبت سره پاکپتن جوړ شوے دے. بيا د پاکپتن شريف يو کَس وو، هغوئي د هغۀ پۀ باره کښې پوښتنه وکړه او اوئې فرمائيل: فلانکے صاحب پۀ څۀ حال کښې دے؟ بيا هُغه زائِر ووئيل: هغۀ خو سپي جنګوي. بيا سيدي قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ فوراً درود شريف ولوستو، بيا يـې لاسونه پورته کړل او د هُغه صاحب د پاره يـې دعا وکړه،



33...؟؟؟

www.dawateislami.net

بيا يــې ووفرمائيل: هغوئي ګيره خريل پريښودي دي، سپي جنګول به هم پريږدي. بيا يــې د هٔغه زائِرِ اِصلاح وکړه او اوئې فرمائيل: **د غيبت په ځائے که دي دُعا کړې وے نو ستا د پاره به ښه وه.** (34)

سُبْحٰنَ الله! دا دي د **الله** پاک نيکان بندګان...!! څومره ښکلي اخلاق دي، څومره ښکلے انداز دے، اول خو وګورئ چې هغوئي به د خپلو اشنا خلقو خير خبر اخستو، دا هم يوه ښکلې ادا ده، بيا د اِصلاح انداز يــې څومره ښکلے دے، هغوئي دعا وکړله، بيا يــې د **الله** پاک د رحمت نه طمع وساتله چې هٔغه صاحب د ګيرې خريلو ګناه پريښودې ده نو نور فضوليات به هم پريږدي او د غيبت کوونکي اِصلاح يــې وکړه چې د چا څهٔ بد ووينې نو خلقو ته يــې مهٔ بيانوه، د هغهٔ د غيبت کولو په ځائے، د هغهٔ په حق کښې دُعا کوه! دا ستا د پاره ښه ده.

کاش چې زمونږه هم دا ذهن جوړ شي، اوس خو مَعَاذَ الله! هر خوا دروغ، غيبت، چغلي ده او ټوله معاشره د دې ګناهونو په ولقه کښې ده، کاش چې زمونږ د ټولو دا ذهن جوړ شي چې مونږ به نهٔ د چا غيبت اورو او نه به د چا غيبت کوو.

## د سينو نه رازوړند خلق

د سرورِ کائنات، شاهِ موجودات صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د معراج په شپه زهٔ د داسې زنانو او نارينو په خوا راتير شوم کوم چې د خپلو سينو نه رازوړند وو، ما پوښتنه وکړه: اے جبرائيله! دا څوک دي؟ عرض يــې وکړو: دا په مخامخ باندې عيب لګوونکي او پشي شاه بد (يعني غيبت

323

34...؟؟؟

کوونکي دي. [35]

مجھے غیبتوں سے بچایا الٰہی!
گناہوں کی عادت چُھڑایا الٰہی!
پئے مُرشدی دے مُعافی خدایا
نہ دوزخ میں مجھ کو جلایا الٰہی!

## غيبت اوريدل هم حرام دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! په دې کښې خو هيڅ شک نشته چې په معاشره کښې غيبت ډير زيات خور شوے دے، خو مونږ د ګناه دا دومره غټ سيلاب ودرولے شو، که چرې مونږ خپل پوخ دا ذِهن جوړ کړو چې زۀ به غيبت نه اورم، يقين وکړئ چې که مونږ غيبت اوريدل پريږدو نو غيبت کوونکي به غيبت کول پريږدي. په **حديثِ پاک کښې دي:** د **الله** پاک د ټولو نه آخري نبي، مکي مَدَني صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د سندرې وئيلو او سندرې اوريدو نه، د غيبت کولو او د غيبت اوريدو نه او د چغلۍ کولو او چغلۍ اوريدو نه منع فرمائيلې ده. [36]

علّامه منَاوِي رحمۃُ اللہِ علیہ د دې **حديثِ پاک** په شرح کښې فرمائي: غيبت اوريدونکے هم د غيبت کوونکو نه وي. [37]

## په غيبت کښې د شريکيدو مختلف انداز

افسوس چې څنګه دلته غيبت عام دے، هم داسې د غيبت اوريدونکو او په دې کښې د شرکت کوونکو او ګنهګاريدونکو هم څۀ



35...(شُعَبُ الْاِيمان ج ۵ ص ۳۰۹ حديث ۶۷۵۰)
36...(جامع صغير، حديث: 9378)۔
37...(فيضُ القدير ج ۳ ص ۶۱۲ تحتَ الحديث ۳۹۶۹)۔

www.dawateislami.net

کمے نشته ❁ پۀ غیبت اوریدو خوشحالیدل ❁ پۀ برق برق خاندل ❁ دې ته پۀ توجه سره غوږ کیښودل ❁ پۀ شوق سره اوریدل ❁ پۀ شوق سره د آؤ، ښۀ، هو وغیره اوازونه کول وغیره دلته عام دي، پۀ دې باندې غیبت کوونکې ته حوصله میلاویږي او هغۀ د نور زیاتې سره غیبت کوي. امام محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه لیکلي دي: چې د غیبت پۀ ګناه کښې داسې شریکیدل هم غیبت دے، دا هم داسې ګناه ده لکه څنګه چې پخپله غیبت کول ګناه ده. (38)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د غیبت او د دې د مختلفو احکامو نه د ځان خبرولو د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډیر ښکلے کتاب **غیبت کی تباه کاریاں** د مکتبة المدينه نه حاصل کړئ یا یې د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net نه ډاؤن لوډ کړئ، پخپله یې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ. **الله** پاک دې مونږ د غیبت د ګناه نه محفوظ کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تو غیبت کی عادت چھڑا یا الٰہی! | بُری بیٹھکوں سے بچا یا الٰہی!
ہو بیزار دل تہمتوں چغلیوں سے | مجھے نیک بندہ بنا یا الٰہی!

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## قطبِ مدینه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه پرې ګیره پرېښوده

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د سیدي قطبِ مدینه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه پۀ ښکلو



38...(ماخوذ از: اِحیاءُ العُلوم ج۳ ص۱۸۰)۔

ښکلو اوصافو کښې یو صفت دا هم دے چې هغوئي به موقع په موقع د نیکۍ دعوت ورکولو، خلقو له د نیکۍ دعوت ورکول، د ګناهونو نه منع کول، د هغوئي د امروزه ژوند حصه وه.

عارف قادري ضیائي د هغوئي رحمۃ اللہ علیہ مُرید دے، هغوئي وائي چې یوه ورځ زهٔ د سیدي قطبِ مدینه رحمۃ اللہ علیہ پهٔ خدمت کښې حاضر شوم، هغوئي یو **حدیثِ پاک** بیان کړو او اوئې فرمائیل: یو ځل دوه کَسان د حضور اکرم، نُورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم پهٔ خدمت کښې حاضر شول. چې کله نبي کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم ته د هغوئي اطلاع میلاو شوه نو هغوئي د ملاقات د پاره د کور نه بهر تشریف راوړلو. هغوئي ګیرې خریلې وې او بریتونه یې غټ پرېښې وو، هغوئي چې ورته وکتل نو مخ مبارک یې ترینه واړولو ځکه چې سید الانبیاء صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغوئي ته د کتو نه نفرت کیدلو. پهٔ دویم ځل یې چې د هغوئي پهٔ خواست باندې مخ مبارک د هغوئي پهٔ لور کړو نو فوراً یې ترینه نه بیا واړولو، پهٔ دریم ځل چې کله رسول اللّٰه صلی اللہ علیہ والہ وسلم د هغوئي پهٔ لور مخ کړو نو پهٔ لاس مبارک باندې یې د هغوئي د مخونو پهٔ لور اشاره وکړه او اوئې فرمائیل: وَيْلَكُمَا مَنْ أَمَرَكُمَا بِهَذَا ستاسو دې بد وي، تاسو ته چا د دې (یعنې د ګیرې خریلو او د بریتو غټولو) حکم کړے دے؟ هغوئي ووئیل: کِسریٰ (نومې زمونږ بادشاه) کړے دے. رسولِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صلی اللہ علیہ والہ وسلم ووفرمائیل: لٰكِنْ رَبِّي اَمَرَنِي بِاِعْفَاءِ لِحْيَتِيْ وَ قَصِّ شَوَارِبِيْ یعنې زما رَبّ خو ما ته د ګیرې غټولو او بریتو واړه کولو حکم کړے دے. [39]

323

39...؟؟؟

د دې نه پس ما (عارف قادري) ته مخاطب شو او اوئې فرمائيل: عارفه! زما په نزد خو ګيره د واجب نه هم څۀ بره ده. عارف قادري وائي چې ما په هُغه ورځ تازه تازه ګيره خريلې وه، د هغوئي فرمان مې چې واوريدو نو وشرميدم، بدن مې په خوله کښې ډوب شو، په زړۀ باندې مې د **الله** پاک د ويرې غلبه وه، په خُله مې څۀ وئيلے نه شو، ما هم په زړۀ زړۀ کښې د ګيرې خريلو نه توبه کړه.

وائي چې په بَله ورځ زۀ په يو سفر باندې روان ووم، ما په ګاډي کښې دوستانو ته دا واقعه بيان کړه نو په هغوئي کښې هم څلورو کسانو د ګيرې خريلو نه توبه کړه. [40]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ګيره خريل يا د يو موټې نه وړه کول دواړه حرام او دوزخ ته بوتلونکي کارونه دي. [41] افسوس چې نن دا ګناه په معاشره کښې ډيره عام شوې ده او د دې سبب څۀ دے؟ صرف فيشن پرستي. کاش چې مونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ښکلي ښکلي سُنَّت اختيار کړو، ګيره هم پريږدو، زلفې هم وساتو، څومره به ښه وي چې عمامه تړل مو هم نصيب شي، کاش چې د ګناهونو نه نفرت او د نيکو سره مو محبَّت نصيب شي.

اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دامت برکاتہم العالیہ ليکي: د کوئټې سره نزدې په يو کلي کښې د يو کلين شيو کوونکي ځلمي لاوارثه



40...؟؟؟۔

41...؟؟؟۔

مړے بیامونده ے شو. د ضروري کاروایۍ کولو نه پس خلقو پۀ شریکه هغۀ ښخ کړو. پۀ دې کښې د مرحوم وارثان د هغۀ پۀ لټون کښې هلته راورسیدل او هغوئي د خلقو پۀ مخکښې د خپل دې خواهش اظهار وکړو چې مونږ د دۀ قبر پۀ خپل کلي کښې جوړول غواړو. نو قبر وکنستے شو او خاوره ترینه لرې کړے شوه او چې کله د مخ د اړخ نه بره کاڼے لرې کړے شو نو د دې لیدلو سره خلقو چغې کړې چې اوس لږه شیبه مخکښې چې یې کوم ځلمے دفن کړے وو د هغۀ پۀ مخ باندې توره ګیره جوړه شوې ده او هغۀ ګیره د تورو ویښتو نه ده بلکې د تورو لړمانانو ده. دا خطرناک منظر یې چې ولیدو نو خلقو استغفار شروع کړو او پۀ څۀ چل وَل یې قبر بیرته بند کړو او پۀ ویریدونکې حالت کښې خپلو کورونو ته واپس لاړل. (42)

اَلْاَمَان وَالْحَفِیظ! اللّٰه پاک دې مونږ د داسې خطرناک انجام نه بچ کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

سرکار کا عاشق بھی کیا داڑھی منڈواتا ہے | کیوں عشق کا چہرے سے اظہار نہیں ہوتا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د غائبانه هستیانو تشریف راوړل

پۀ حُضُور سیدي قطبِ مدینه رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْه باندې د وِصال نه دوه میاشتې مخکښې څۀ عجیبه شان کیفیت راغلے وو، بعضې وخت به یې بیا بیا فرمائیل: راځئ! قبلۀ مَن! تشریف راوړئ! یو ځل حاضرینو ولیدل چې



42...(کالے بچھو)

www.dawateislami.net

هغوئي لاسونه جوړه کړي دي او چا ته خواست کوي: ما معاف کړئ! د کمزورئ په وجه زۀ د تعظيم د پاره نشم پاڅيدے. د حاضرينو په پوښتنه يې ووفرمائيل: اوس حضرت خضر علیہِ السَّلام ، حُضُور سرکارِ بغداد غوثِ اعظم او زما پير او مرشِد امام احمد رضا خان رحمۃُاللہِعلیہما تشريف راوړے وو. [(43)]

## وصال شريف او جنازه مبارکه

په خلورم ذُو الحج، کال 1401ھ (بمطابق 10 فروري، 1981ء) د جُمعې په ورځ د مسجدِ نبوي شريف مؤذِن چې کله اللّٰهُ اکبر، اللّٰهُ اکبر ووئيل او اذان يې شروع کړو نو هم د دې سره سيدي قطبِ مدينه رحمۃُاللہِعلیہ کلمه مبارکه ولوستله او هغوئي د دې دُنيا نه رِحلت وکړو. د غسل شريف نه پس کفن وغوړولے شو او د سر مبارک لاندې يې د حُجرۀ مَقصُوره شريف يعنې د شنو جنګلو د دننه حصې خاوره مبارکه کيښودے شوه او نور مختلف تبرکات هُم کيښودے شول. بيا کفن مبارک وتړلے شو. د مازديګر د نمانځه نه پس د قصيده بُرده شريف په اوازونو کښې جنازه مبارکه يوړے شوه.

عاشق کا جنازہ ہے ذرا دھوم سے نکلے
محبوب کی گلیوں میں ذرا گھوم کے نکلے

آخر د بے شميره غم زيلو په موجودګئ کښې په بقيع پاک کښې د رسول اللّٰه صلَّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم د شهزادګئ فاطمة الزهرا رضی اللہ عنہا د مزار مبارک نه صرف په دوه ګزه فاصله کښې دفن کړے شو. د اللّٰه رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې



43...(کالے بچھو)

www.dawateislami.net

رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي. (44)

| | |
|---|---|
| عشق کا پیکر شرع کا پاسباں جاتا رہا | منزلِ مقصود کا روشن نشاں جاتا رہا |
| روتے ہیں چھوٹے بڑے ان کا دُعا کو چل بسا | اہلِ سنّت کا کفیل اور پاسباں جاتا رہا |
| وہ رہا تو برکتیں ہی برکتیں تھیں بزم میں | وہ گیا تو برکتوں کا اِک جہاں جاتا رہا |
| گھی نہ آئے کارواں میں اِختلاف و اِنتشار | ہو الٰہی خیر میر کارواں جاتا رہا |
| وہ کہ جو اوروں کے غم میں دل سے ہوتا تھا شریک | وہ کہ جس کی تھی بہت میٹھی زباں جاتا رہا |
| وہ نبی کا تھا چہیتا، غوث کا تھا لاڈلا | اپنے پیر و مرشد کا دلارا، مدح خواں جاتا رہا |
| ہائے وہ کیسا ہمارے سر سے سایہ اُٹھ گیا | جس کے اُٹھ جانے سے سب آرام جاں جاتا رہا(45) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

الله پاک دې مونږ ته د سيدي قطبِ مدينه رحمۃ اللہ علیہ د سيرت او اخلاقو نه د رڼا اخستو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

## د قربانۍ خرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ!

پهٔ دې وخت کښې د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د سيدي قطبِ مدينه، امام احمد رضا خان او غوث او خواجه او د نورو اوليائے کرامو رحمۃ اللہ علیہم پهٔ فيضان عام کولو کښې مشغول دے ❁ دعوتِ اِسلامي اوسه پورې پهٔ زرګونو جوماتونه، پهٔ سوؤنو فيضانِ مدينه (مَدَني مرکزونه) جوړ کړي دي ❁ هلکانو او جينکو ***(Boys & Girls)*** ماشومانو ته د قرآنِ پاک بيل بيل تعليم ورکولو د پاره د (رَمَضَانُ المُبَارَک 1445 هجری



44...؟؟؟

45...؟؟؟؟

www.dawateislami.net

پورې) پهٔ ټوله دنيا کښې تقريباً 12 زره 699 مدرسة الــمدينه جوړ کړے شوي دي، پهٔ کومو کښې چې تقريباً 3 لاکهه 73 زره 729 هلکانو او جينکو ماشومانو ته د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرې مفت تعليم ورکولے شي. ❁ د عالِم او عا لِـمې کورس کولو د پاره اوسه پورې تقريباً 1439 جامعة الــمدينه ***(Boys & Girls)*** جوړې کړے شوې دي پهٔ کومو کښې چې تقريباً يو لاکھ 32 زره هلکانو او جينکو طالبِ علمانو ته درسِ نظامي (د عالِم او عا لِـمې کورس) مفت کولے شي. ❁ د شرعي رهنمايۍ د پاره پهٔ ټول پاکستان کښې 17 دارُ الافتاء اهلِسُنَّت جوړ کړے شوي دي چرته چې مفتيانِ کرام د اُمَّت پهٔ شرعي لار ښودنه کښې مصروف دي، پهٔ دې کښې د کال اوسطاً د يو لاکھ 70 زره سوالونو پهٔ مختلف انداز کښې (مثلاً بالمشافه، د فون پهٔ ذريعه، پهٔ واټس ايپ، اي ميل وغيره) جوابونه ورکولے شي. او ❁ پهٔ الــمدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** کښې پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې 932 ديني کتابونه چاپ کړے شوي دي او دا سلسله لا اوس هم روانه ده ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مَدَني چينل دا وخت پهٔ دريو ژبو اُردو، انګلش او بنګالۍ کښې پهٔ سيټلائټ باندې دے.

تاسو هم د دين د خِدمت پهٔ دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! عيد الاضحیٰ [يعني غټ اختر] رانزدې دے، عاشقانِ رسول به د قربانۍ سعادت حاصلوي. ټولو ته خواست دے چې د خپلو خپلو ښاروو خرمن دعوتِ اِسلامي له ورکړئ! ستاسو د ورکړے شوي رقم يا خرمن پهٔ ذريعه به پهٔ ټوله دُنيا کښې دِيني، اِصلاحي، رُوحاني او د خير ښيګړې کارونه

کولے شي، اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! دا به ستاسو د پاره صدقۀ جاريه وي. د دې سره سره پۀ خپله کوڅه او محله کښې، خپلو خپلوانو ته فون وغيره وکړئ او هغوئي له هم د دې ترغيب ورکړئ! پۀ خپل کوشش باندې خرمنې هم راجمع کړئ! اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! د دې به هم برکتونه در نصيب کيږي، **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** چا چې د څۀ خير پۀ لور رهنمائي وکړه هغۀ ته به پۀ دې باندې د عمل کوونکي همره ثواب ميلاويږي.[46]

د خرمنو راجمع کولو پۀ باره کښې يو څو احتياطي تدبيرونه وړاندې کولے شي: ❀ د الله پاک د رضا د پاره خرمنې راجمع کړئ ❀ د خرمنو راجمع کولو پۀ وخت د نـمونځونو پابندي وکړئ ❀ د بدبوداره جامو سره جومات ته د تللو نه ډډه وکړئ، دې د پاره يوه صفا سوترا جوړه د ځان سره وساتئ ❀ جومات، مدرسه وغيره پۀ وينو د ګنده کولو نه بچ کړئ ❀ چا چې يوې بَلې ادارې ته د خرمنې ورکولو وعده کړې وي پۀ هغوئي باندې وعده مۀ ماتوئ ❀ چا ته غصه مۀ کوئ ❀ د خرمن ورکوونکي پۀ ښه طريقه مننه وکړئ ❀ پۀ داسې ځائے کښې د خرمنو راجمع کولو سټال مۀ لګوئ چرته چې خلقو ته پۀ تللو راتللو کښې تکليف وي.

عطّارؔ سے محبوب کی سُنَّت کی لے خدمت | ڈنکا یہ ترے دین کا دُنیا میں بجادے (47)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عليهِ واٰلهٖ وسلَّم

323

46...ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدال...الخ، صفحہ:628، حدیث:2671۔

47...وسائلِ بخشش، صفحہ:112۔

## پهٔ 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: مَدَني قافله

اے د خوږ نبي صلّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم عاشقانو! د اولیائے کرامو د فیضان موندلو، باکرداره او اخلاقي مسلمان جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ او د دعوتِ اِسلامي پهٔ 12 ديني کارونو کښې ښهٔ پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او د دنيا بے شميره برکتونه به مو نصيب شي. پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار مَدَني قافله هم ده.

❁ بے شکه د نيکئ دعوت ورکول، پهٔ دې لاره کښې سخته تيرول د انبياؤ عليهم السّلام سُنَّت دي، ❁ د دِين کار پهٔ سختو تيرولو، پهٔ قربانو ورکولو کيږي ❁ انبيائے کرام عليهم السّلام ❁ صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم ❁ نيکان خلق به د نيکۍ د دعوت ورکولو د پاره د خپلو کورونو نه وَتَل ❁ لرې پرتو علاقو ته به تلل ❁ هجرت به يې کولو او سخته به يې تيروله او د دين پيغام به يې عام کولو ❁ د مخکښينو خلقو پهٔ قربانو مونږ ته دِين رارسيدلے دے

❁ د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي هم پهٔ دې لاره باندې روان دے

❁ پهٔ ټوله دنيا کښې د دِين د پيغام عام کولو د پاره پهٔ لکونو عاشقانِ رسول د مَدَني قافلو پهٔ شکل کښې ملک ملک، ښار ښار، کلي کلي ته ځي او د نيکۍ دعوت عام کوي ❁ د مَدَني قافلو پهٔ برکت باندې ډير کافران د کلمې وئيلو سره مسلمانان شوي دي ❁ د لکونو پهٔ ژوند کښې د نيکو سپرلے راغلے دے ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د 3 ورځو، 12 ورځو، يوې مياشت او د 12 مياشتو قافلې سفر کوي.

❁ تاسو هم پهٔ مَدَني قافله کښې سفر وکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به مو

نصيب شي ❁ پهٔ مَدَني قافله کښې فرض عِلمِ دِين ښودلے شي ❁ سُنَّت ښودلے شي ❁ د تهجدو کولو سعادت مېلاوېږي ❁ د نيکۍ د دعوت عام کولو موقع مېلاوېږي ❁ د قافلې پهٔ برکت سره د ماشومانو پوره کيدو ❁ د سختو لرې کيدو ❁ د بيمارانو د شفا نصيب کيدو هم پهٔ سوونو واقعات دي ❁ داسې هم شوي دي چې پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګيرنې د پاره خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم کرم فرمائيلے دے، پهٔ خوب کښې يې تشريف راوړے دے او پهٔ قافله کښې برخه اخستونکو له يې ديدن ورکړے دے.

چې مونږ پهٔ مَدَني قافله کښې سفر وکړو نو څهٔ پته چې پهٔ مونږ باندې هم کرم وشي. کم از کم هره مياشت د 3 ورځو پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر نيت وکړئ! راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

## د باغ ځانګو

د حيدر آباد پهٔ يوه محله کښې د علاقائي دورې د دعوت نه د متاثره کيدو سره يو ماډرن ځلمے جومات ته راغلو. پهٔ بيان کښې پهٔ مَدَني قافلو کښې د سفر کولو ترغيب ورکړے شو نو هغهٔ پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر کولو د پاره نوم وليکو. د قافلې پهٔ روانيدو کښې لا يو څو ورځې پاتې وې چې هٰغه ځلمے وفات شو. پهٔ کور والؤ کښې يو کَس هغهٔ پهٔ خوب کښې پهٔ دې حالت کښې وليدو چې هغهٔ پهٔ يو شين باغ کښې ډير خوشحاله دے او پهٔ ځانګو کښې ځانګي. خوب ليدونکي ترينه پوښتنه وکړه چې دلته څنګ راغلې؟ هٰغه ځلمي جواب ورکړو چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره راغلے يم، **الله** پاک ډير کَرم فرمائيلے دے، زما مور ته ووايه

چې زما غم نه کوي، زۀ دلته ډیر پۀ سکون کښې یم.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
پاؤگے بخششیں قافلے میں چلو | جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## قرآن ټیچر موبائل ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټیکنالوجۍ دور دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د قرآنِ کریم د فیضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرآن ټیچر(***Quran Teacher***). ❁ پۀ دې ایپلي کیشن طالبِ علمان د درسِ نظامي، فیضانِ نماز کورس او زکوٰة کورس پۀ شان د بے شمیره آن لائن کورسونو د پاره رجسټریشن کولے شي ❁ پۀ سټوډنټ پورټل ( ***Student Portal***) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو څلو پۀ باره کښې څان خبر ساتلے شي ❁ د دعوتِ اِسلامي پۀ دې پلیټ فارم باندې تقریباً د 45 نه زیات اِسلامي کورسونه کولے شي. ❁ دا ایپلي کیشن د آئن لائن کیدونکو کورسونو پۀ باره کښې هم معلومات ورکوي. تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر یو کورس انتخاب کولے شئ او بغیر د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ. دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ او پخپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب وکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ اے د خوږ نبي صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم عاشقانو! د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتہم العالیہ پۀ مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د ذو الحج مبارکه عشره روانه ده پۀ کومه کښې چې هره ورځ مَدَني مذاکره کيږي. ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله د سُنيانو عالَمَانو د مکے مدينے 17 واقعات اعلان کولے شي. دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئ دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ❁ قرباني د اِسلام يوه اهمه فريضه ده، هر کال مسلمانان دا فريضه ادا کوي، کله نا کله به زمونږ پۀ ذهن کښې هم ضرور دا پوښتنه راځي چې مونږ قرباني ولې کوو او د دې څۀ فائدې دي، د دې خبرو نه د ځان خبرولو د پاره د مکـتبة الـمدينه دوه رسالې قربانی کیوں کرتے ہیں او جانوروں کے بارے میں دلچسپ معلومات د مکـتبة الـمدينه د يوې ځانګې نه پۀ 20، 20 روپے پۀ بيعه واخلئ، پخپله يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د

ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي. [48]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## قرباني سُنَّتِ مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ده

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم 2 فرامين مبارک: (1):** څوک چې د زړهٔ پهٔ خوشحالئ، د ثواب د پاره قرباني وکړي، د هغهٔ قرباني به د هغهٔ او د دوزخ ترمينځه ديوال جوړ شي. [49] **(2):** ستاسو د پاره د قربانئ د خاروي د هر يو ويښته پهٔ بدل يوه نيکي ده. [50]

**اے د خوږ نبي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم عاشقانو!** خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم به قرباني کوله، حضرت عائشه صِدِّيقه رضی اللہ عنہا فرمائي: د رسول الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم پهٔ بارګاه کښې د سپينو او تورو داغونو والا يو ګډ وړاندې کړے شو کوم چې هغوئ پهٔ خپلو لاسونو باندې ذبح کړو. [51] ❁ قرباني پهٔ هر هُغه بالغ مقيم مسلمان نارينه او



48…تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
49… معجم کبیر، جلد:2، صفحہ:213، حدیث:2670۔
50…ابن ماجہ، کتاب:الاضاحی، باب:ثواب الاضحیہ، صفحہ:510، حدیث:3127۔
51… مسلم، کتاب الاضاحی، باب استحباب الضحیۃ...الخ، صفحہ:782، حدیث:1967۔

www.dawateislami.net

زنانه باندې واجب ده کوم چې د نصاب مالِک (يعنې د چا سره چې دوه پنځوست نيمې (52.5) تولې سپين زر يا د دې ماليت رقم يا د دومره ماليت د تجارت مال يا د دې ماليت د اصلي حاجت نه علاوه سامان) وي. [52] ❀ څوک چې د وَس لرلو باوجود قرباني ونکړي، د داسې کَس په باره کښې آخري نبي، مکي مَدَني صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائيلي دي چې دے دې زمونږ د عيد ګاه خوا له نه راځي. [53] ❀ حضرت بابا فريد الدِّين ګنج شَکر رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: څوک چې صدقه او قرباني نه کوي د هغۀ نه ارام اخستے شي. [54] ❀ د قربانۍ په وخت کښې هم قرباني لازمي ده بَل يو څيز (يعنې د مال وغيره په ذريعه صدقه) کافي نه ده. [55]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د قربانۍ د تفصيلي احکامو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه کتاب **بهار شريعت** جلد: 3، حصه: 15 او د اميرِ اهلسُنَّت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ د 50 صفحو رساله *ابلق گھوڑے سوار* واخلئ او دا ولولئ. **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم .

323

52... فتاویٰ ہندیہ، کتاب الاضحیہ، باب فی تفسیر ھاور کنھا...الخ، جلد:5، صفحہ:360-362 ملتقطاً۔
53... ابن ماجہ، کتاب الاضاحی، باب الاضاحی واجبۃ ام لا، صفحہ:509، حدیث:3123۔
54... فیضان بابا فرید، صفحہ:65۔
55... فتاویٰ ہندیہ، کتاب الاضحیہ، باب فی تفسیر ھاور کنھا...الخ، جلد:5، صفحہ:363۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو دِ كه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاگانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صلّى الله عليه واٰله وسلّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صلّى الله عليه واٰله وسلّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه دِكو لاسو باندې كوزوي.[56] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رضى الله عنه نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلّى الله عليه واٰله وسلّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.



56...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصًا

www.dawateislami.net

## ﴿3﴾د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[57] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُاللهِ عَلَيه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[58] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْه تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[59] راځئ چې مونږ ئې هُم په شریکه اووائیو.



57...القول البدیع،الباب الثانی، ص ۲۷۷
58...افضل الصلوات علی سید السادات،الصلاة الثانیۃ والخمسون، ص ۱۴۹
59...القول البدیع،الباب الاول، ص ۱۲۵

www.dawateislami.net

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[60] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی الله عنهما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[61] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[62] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



60...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث: ۳۰
61... مجمع الزوائد، کتاب الادعیۃ، باب فی کیفیۃ الصلاۃ...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵
62... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵

www.dawateislami.net